## مطبوعاتي اعلاميه

### د ازبکستان په زندانونو کې د يوه بل شهيد ماتم

(ژباړه)

په ډېره خواشينۍ او تاسف زموږ د هېواد مسلمانانو او ټول اسلامي امت ته د حزب التحرير د يوه بل غړي د شهادت له امله د تسليت مراتب وړاندې کوو، چې د حزب د شهيدانو په قطار کې شامل او له لوړ مقام لرونکو ملګرو سره يو ځای شو. زموږ ورور او د حزب التحرير غړی، نګمونوف ايوب خان اسماعيلوويچ، شنبه، د ډسمبر ۲مه، د نوايي ښار په ٦٦/٦٤ شمېره زندان کې شهيد شو.

زمونږ ورور ايوب خان د ۱۹۷۵م کال، د اګسټ په ۲مه نېټه زيږيدلی او د درېيو ماشومانو پلار و. د خپل ژوند ۲۴ کاله يې په ناحقه د ازبکستان په بېلابېلو زندانونو کې تېر کړل او بالاخره په نوايي ښار کې د ظلم په دغه ډنډ کې شهيد شو. د نوموړي د جنازې لمونځ په ورپسې ورځ د ماسپښين تر لمانځه وروسته په علي جامع جومات کې ادا شو.

د يادولو وړ ده چې د ايوب خان وروڼه؛ يوسف، سليمان، يونس او يعقوب جان يوازې د خپلې عقيدې له امله د خپل ژوند نيږدې شل کاله د ازبک رژيم تر استعمار لاندې په خورا سختو شرايطو کې تير کړل. بيا هم دغه ظالم حکومت، ايوب خان ازاد نه کړ. هغه په ۱۹۹۹م کال کې د ډله ييزو نيونو په ترځ کې په زندان محکوم شو. د ډول ډول شکنجو له زغملو وروسته يې بالاخره شهيد جسد له زندانه را و ايستل شو. پر دې ادعا سربېره چې د ايوب خان د شهادت لامل تنفسي التهاب دی؛ موږ نه شو هېرولی چې د دغه حکومت اجنټانو زموږ د ډېرو وروڼو، چې په ورته شرايطو کې وو، له زخمونو ډک جسدونه د هغوی کورنيو ته وسپارل، بيا يې کورنۍ اړ ايستې چې ژر تر ژره يې خښ کړي چې د مخالفو غړونو مخه ونيسي.

ښکاره ده چې د ازبکستان رژيم د يهودي کريموف د ظالمانه او وژونکي حاکميت پر مهال د حزب التحرير غړي بنديان او په سلګونو بنديان يې د پوښتنو ګروېږنو پر مهال شهيدان کړل يا يې هم په زندانونو کې اعدام کړل. الله سبحانه وتعالی دې د دوی شهادتونه قبول او منظور کړي! په ۲۰۱٦م کال کې د ظالم کريموف له وژل کېدو وروسته او د ميرضيايوف د حاکميت پر مهال د حزب التحرير ګڼ شمېر شباب له زندانونو څخه خوشي شول، خو سلګونه کسان لا هم بنديان دي. د دوی محکوميت څو څو ځله تمديد شوی او په پايله کې يې ډېری تر ۲۰۳۵م کال پورې په زندانونو کې پر پاتې کېدو محکوم شوي دي. په وروستيو کلونو کې، زموږ د شبابو پر

وړاندې "چاپې" وهل کېږي او د ملي امنيت چارواکي چې له زندانونو سره په اړيکه کې دي؛ امر ورکوي چې د پلان له مخې څوک بايد اعدام شي؛ دوی شخصاً د دغو اعدامونو څارنه کوي. که څه هم د ميرضيايوف د واکمنۍ پر مهال د دغو کرکجنو کسانو لاسونه له زندانونو را لنډ شوي وو؛ خو ظالم کريموف نور وروزل. ښايي ظالمانو زموږ وروڼه د پېړۍ يوه ربع په زندانونو کې هير کړي وي؛ خو امت او د دوی دعوتگر وروڼه به يې هېڅکله هېر نه کړي! موږ د ازبکستان حکومت ته وريادوو چې تاسو به خامخا د اسلامي امت د زړورو کسانو، د جسدونو په اړه حساب ورکوئ، په ځانگړې توگه د حزب التحرير د شبابو په اړه چې په زندانونو کې شهيدان شوي او د هغو بنديانو په اړه چې تر اوسه بنديان دي! په دې کې هېڅ شک مه کوئ چې که خدای کول، خلافت دولت به ډېر ژر له تاسو سره محاسبه وکړي. د الله سبحانه وتعالی عذاب ډېر سخت او تريخ دی!

موږ له الله سبحانه وتعالی څخه غواړو چې زموږ ورور ايوب خان د شهيدانو له سردار حمزه بن عبدالمطلب رضی الله عنه سره حشر کړي او هغه ته د جنت الفردوس لوړې درجې ورکړي، چې د الله سبحانه و تعالی په لار کې شهيدانو سره يې وعده شوې! الله سبحانه وتعالی خو دې هغه ته جنت الفردوس او کورنۍ او دوستانو ته يې جميل صبر ورکړي. موږ له هغوی سره خپله همدردي ښيو او په اخلاص دعا ورته کوو.

**[مِّنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللهَ عَلَيْهِ فَمِنْهُم مَّن قَضَى نَحْبَهُ وَمِنْهُم مَّن يَنتَظِرُ وَمَا بَدَّلُوا تَبْدِيلاً]** [احزاب: ۲۳]

**ژباړه:** *«له مومنانو څخه ځينې داسې شخصيتونه شته چې له الله تعالی سره يې کړې ژمنه رښتيا کړې ده: له هغو څخه چا خپل نذر پوره کړ او څوک د وخت راتلو ته انتظار باسي. هغوی په خپله کړنلاره کې هېڅ بدلون رانه وستلو.»*

**په ازبکستان کې د حزب التحرير مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۵ هـ.ق کال، د جمادي الاول ۱۹مه**

**۲۰۲۳م کال، د ډسمبر ۳مه**

**د صدور گڼه: ۰٦/ ۱۴۴۵**

**ژباړن: محمد حامد**